## داوطلبۍ ته بلنه

## داخلي پرانیستې داوطلبي

**پروژه**: د افغانستان بانک ریاست د مېلمستون، د پښتنی بانک تعمیر، څلورمه ښاري، شپږمه ښاري او پخلنځي لپاره د اوبلنو ګازو چمتو او تدارک کول

**داوطلبۍ ته د بلنې شمېره: DAB/1400-1/NCB/G12**

۱. د افغانستان بانک ریاست په پام کې لري څو د ۱۴۰۰ کال لپاره د ځانګړو شویو وجوهو یوه برخه د پورته یادې شوې پروژې لپاره د **DAB/1400-1/NCB/G12** داخلي پرانیستې داوطلبۍ د کړنلارې په کارولو سره ولګوي.

۲. د تدارکاتو آمریت د افغانستان بانک په استازولۍ ټولو په شرایطو برابرو داوطلبانو ته بلنه ورکوي څو د یادې داوطلبۍ په پروسه کې ګډون وکړي او د شرطنامې د شرایطو سره سم خپل سر بند آفرونه وسپاري.

۳. د دې قرارداد موده { **یو کال** } ده.

۴. دا داوطلبي د داخلي پرانیستې میتود پر بنسټ چې د افغانستان د تدارکاتو په قانون او کړنلاره کې ترې یادونه شوې ده، په لاره اچول کېږي او په شرطنامه کې په ګوته شویو په شرایطو برابر هېوادونو د ټولو داوطلبانو پر وړاندې پرانیستې ده.

۵. په شرایطو برابر ټول لیوال داوطلبان کولای شي په دري ژبه د افغانستان بانک د ویب پاڼې (www.dab.gov.af) څخه د داوطلبۍ اسناد راښکته کړي او د نه لاسرسي په صورت کې دې د (hezbullah.niazy@dab.gov.af) بریښنالیک او یا هغې پتې څخه چې لاندې یې یادونه شوې ده، د داوطلبۍ سندونه په خپل فلش دسک کې ترلاسه کړي.

**۶. آفرونه باید لاندې پتې ته د سهار له {10:00} بجو مخکې 1400/12/15 وسپارل شي. د یادونې وړ ده چې له ټاکلې مودې وروسته رارسیدلي او الکترونیکي آفرونه د منلو وړ نه دي.**

۷. ټول آفرونه باید د آفر د تضمین د لاندیني مبلغ سره یوځای وسپارل شي.

آفر تضمین: بانکي تضمین

۸. **د آفر د تضمین مبلغ 72,745**/دوه اویا زره اوه سوه او پنځه څلویښت **افغانۍ**

د آفر د تضمین: بانکي تضمین د آفر د اعتبار له مودې څخه ۲۸ ورځې وروسته اعتبار ولري. یعنې د آفر د سپارلو د نېټې 1400/12/15 څخه تر ۱۱۸ورځو پورې یا د تمدید شوې مودې تر پای پورې، په هغه صورت کې چې د تمدید شویو داوطلبانو لپاره د کړنلارې د ۱۵،۲ مادې مطابق وي، د اعتبار وړ پاتې شي.

یادښت: د آفر د تضمین (بانکي تضمین\ نغدي پیسی) باید په اصلي نسخه کې وسپارل شي. هر ډول فوټوکاپي او یا سکن شوې کاپي د اعتبار وړ نه ده.

۹. پر شرایط برابر داوطلب باید لاندې شرطونه پوره کړي:

1-  ۱. **د داوطلب لږ‌اره د خدمتونو حد اقل کاري حجم:** تجربه او تخنیکي ظرفیت: داوطلب باید هغه اسناد ولري چې د تجربې او تخنیکي ظرفیت د لاندې معیارونو پوره کولو ښکاروندوی وي. د تدارکاتو د کړنلارې د ۵ شمېرې حکم او د تدارکاتو د قانون ۸ مادې سره سم د یادو توکو د چارو لپاره د ورته کاري تجربې معیار اړین نه دی.

2-  داوطلبان باید د اسنادو په چمتو کولو سره ثابته کړي چی په تیرو 10 کلونو کی د ورته قرارداد لږترلږه (یو/دوه) ترسره کولو تجربه د لاندی ارزش څخه ښکاروندوی وي. د تدارکاتو د کړنلارې د ۵ شمېرې حکم او د تدارکاتو د قانون ۸ مادې سره سم د یادو توکو د چارو لپاره د ورته کاري تجربې معیار اړین نه دی.

د نغدي شتمنیو او یا اعتباري اسانتیاوو او د داوطلب د نورو خالصو قراردادي ژمنو خالص مبلغ په لاندې ډول دی: د اعلان له ورځې تر آفر پرانیستنې پورې **ټولیز ارزښت (***:909,304*** – نه سوه او نه زره او دری سوه او څلور افغانی)**

۱۰. آفر پرانیستنه د داوطلبانو او د هغوی د واک لرونکو استازو په شتون کې د آفر د تسلیمۍ د وروستۍ نیټې په پای ته رسېدو سره په لاندې پته ترسره کیږي.

**د آفر د سپارلو پته:**

د تدارکاتو لوی امریت، د افغانستان بانک، پښتونستان واټ، کابل، افغانستان

د اړیکو شمیره: 202106692 (0) 93+

برېښنالیک: ihsanullah.ihsan@dab.gov.af

ویب پاڼه: www.dab.gov.af